مجيب الرحمن « خطيبي »

د نشر نيټه : 26 فبروری 2016 م

د مولانا سعيد افغاني د يو ديرشم ، تلين په ويار!

ای دی خير او دسعادت او د حسن تفاهم د لاری مبارزه !

تا د سيد جماالدين « افغاني » په څير ؛ په ويار سره دی افغاني همت او فهم سره د عرب په ځمکه د افغاني تاريخ د ژوندی پاتی کيدو لپاره د سولی وړی کيښود .

ته د علم او پوهی هغه روښانه مشعل يې چې پيړی پيړی به د تولو افغانانو په لاس وګرځول شي او د عالمانو، سياست پوهانو د ژبی څاری به وي او د هرې ورځ پانی سرليک به منل کيږی .
ته مړ نه يی ؛ ستا نوم په افتخار سره زمونږ په زړونو او د تاريخ صفحو کښی ژوندی دی !

ای د سولی او آرامش د لارې مشعله !

ته زمونږ او د شرق ، غرب د پوهانو په افکارو کی یی ، هیڅکله به ستاسو د « نـدآ صلح و آرامش ضرورت مبرم عصر موجوده ماست » چه د بشر د خیر اوسعادت ته دی پیشنهاد کړه ؛ هیره به نشي او بالاخره به ستا ټولی « غوری ویناوی ، لیکني او ملی ارمان » به د یو ملی او تحقیقاتی اداری لخواه ارزیابي شي ، او د وطن او د انسان د خیر وسعادت لپاره به تری رهنمودونه جوړشي .

ای د مینې او محبت د لارې مبلغه !

تا د اسلام واقعی دین چه د « عشق او محبت » دین دی ، لکه علامه سید جماالدین « افغاني » بشریت ته معرفی کړ ؛ نو په یو آواز او په ډیر صداقت اعلامو چې مونږ د دوه رشتینی علامه ، شاهدان یوو، یو علامه سید جماالدین « افغاني » د نړی ستر مفکر، اوبل ثانی سید جمال الدین ؛ مولانا محمد سعید « سعید افغاني » زمونږ د هیواد مشهور روحاني ، پوه عالم ، لیکوال ، مولف ، استاد او اجتماعي شخصیت دی ؛ چـه تل یی د سولی ، تـرقی ، وروری ، برابری او تفـاهم لپـاره مبارزه وکړه .

الهی ! ته په خپل فضل او مرحمت ؛ مولانا سعید افغاني مغفرت او روحی ښاد کړه !

امین یارب العالمین

****

مجیب الرحمن « خطیبي »

کابل ـ خیرخانه مینه

۲۶ فبروری ۲۰۱۶

www.said-afghani.org ـ بازگشت به صفحه اصلی